مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۳/۱۶

غـزل

په شور کي د غمونو د لښـکر رانه ورک شوی
پښي مي پسي ستړي شولي سر رانه ورک شو

پښتون ویل دښمن ته شوم خالي لاسونه پاتي
د خپل ورور په ټټر کي مي خنجر رانه ورک شوی

جـنـت وطـن شـو پـاتـي ټکوم پـردي وَرونــه
پـدي وېړه نړۍ کي مي خپل ور رانه ورک شوی

د خدای په رضا مرګ کوي خو خدای يې پيدا نه کړ
بيا راشه پيغمبـره! چـي رهـبـر رانـه ورک شـوی

دا هسي خود کي ښکاري دا روان پـه لاشعور دی
اعلان مي پسي کړی دی" بـاور" رانـه ورک شـوی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ